# د جوړښت او پای له مخې د پښتو مصدرونو ډولونه

مصدر هغه کلیمه ده چې پې له زماني څخه یو فعل او کار ښې او زمانه تری نه معلومیږی. په پښتو کې مصدرونه په لاندی ډول دی :

## مصدر د لفظ په لحاظ پر پنځه ډوله دی :

1. لام والا: هغه دي چې یوازې په «ل» پای ته رسېدلي وي. دا مصدرونه په دوه ډوله دی:

الف -ډوه توکیزه: هغه دي چې له دوو توکیو څخه جوړ وي و دجلاکېدو وړ وي.

ب - غیر دوه توکیز: هغه دی چې په اصل کښې مصدرګنل شوې وي او د تجزیې وړ نه وي،مثالونه یې په لاندې ډول دي:

| | |
|---|---|
| پورې وتل= له پورې او وتل | وهل |
| پرې وتل= له پرې او وتل | تلل |
| تېروتل= له تېز او وتل | پالل |
| څملاستل= له څم اولاستل | خوړل |
| بوتلل= له بو اوتلل | غوښتل |
| پرې شودل= له پرې او شودل | موندل |
| پرانیستل= له پرا اونیستل | ژړل |

2. ول والا: هغه دي چې یوازې په «ول» پای ته رسېدلي وي، او په دوهډوله دي:

الف: هغه دي چې له لومړنی توکی یا ول سره یوځای شوی کلمه یې یو بې معنا لفظ وي لکه ګرځول چې لومړنی جز «ګرځ» یې یو بې معنا لفظ دی.

ب : هغه دي چې له لومړنی توکی یې یو معنالرونکی لفظ وي، لکه جنګول چې لومړی جز یې «جنګ» یوه معنا لرونکې کلمه او نوم دی.

| الف - لومړی ډول | ب ـ دویم ډول | لومړنی توکی |
|---|---|---|
| تښتول | سپینول | سپین |
| غورځول | مړول | مړ |
| ګرځول | جګول | جګ |
| خندول | ماتول | مات |
| ژړول | زغلول | زغل |

3. يدل والا: لکه: ګرځیدل، مریدل، پاخیدل

هغه دي چې  په «یدل» پای ته رسېدلي وي. دا مصدرونه په دوه ډوله دی:

الف: هغه دي چي له لومړنی توکی یې یو بې معنا لفظ وي لکه ګرځېدل چي لومړنی جز «ګرځ» یې یو بې معنا لفظ دی.

ب : هغه دي چې له لومړنی توکی یې یوه معنالرونکی لفظ او استعمالېدونکی کلمه (نوم او صفت وي لکه:

| الف - لومړی ډول | ب . دویم ډول |
|---|---|
| تښتېدل<br>غورځېدل<br>خندېدل<br>ګرځېدل<br>ژړېدل | سپینېدل<br>مړېدل<br>ماتېدل<br>ځغلېدل |

4. کول والا: هغه دی چې په پای کښې د «کول» په یو ځای کولو سره یوه بله کلمه جوړه شي. په دوه ډوله دي:

الف - لومړی ډول:که چېرې لومړنی جزیې د مفهوم له مخې نه «کول» سره یو او د فعل غوندې وګرځي او جلامفعول و غواړي.

ب . دویم ډول: که چېرې د معنا له مخې له «کول» سره یو نشي او خپله د «کول» مفعول واقع شي.

| الف - لومړی ډول | ب . دویم ډول |
|---|---|
| پورته کول | کرکول |
| سرپورته کول | واښه کول |
| پخلا کول | زیاتی کول |
| پرې کول | ظلم کول |
| پورې کول | |

5. کیدل والا: هغه دي چې په پای کښې یې کېدل راغلي وي، دا په دوه ډوله دي:

که چېرې په تولو «کول» والا مصدرونو د« کول» پر ځای «کېدل» راوړل شي له لومړی ډول نه یې لومړی ډول کیدل والا او له دویم ډول نه یې دویم ډول کېدل والا مصدرونه لاس ته راځي.

| الف - لومړی ډول | ب . دویم ډول |
|---|---|
| پخلا کیدل<br>پرې کیدل<br>پورې کیدل | کر کیدل<br>واښه کیدل<br>زیاتی کیدل |

د مصدر معنوی ډولونه په لاندی ډول دی :

1) لازمی: هغه دی چی فعل ېی یوازی په فاعل تمامیږی او مفعول ته ضرورت نه لری لکه: تلل، ګرځېدل
2) متعدی معلوم: چی فعل ېی یوازی په فاعل نه تمامیږی بلکی مفعول هم غواړی لکه: تړل، ساتل، پخول، آشنا کول
3) متعدی مجهول: چی فاعل ېی معلوم نه وی لکه: پری کیدل، وهل کیدل
4) متعدی حکمی: چی د معنی په لحاظ لازمی وی مګر په استعمال کی د متعدی مصدرونو حکم لری او د (ما، تا، ده) ضمیرونه ورسره استعمالیږی لکه: ده وخندل، هغه وژړل. دغه ډول مصدرونه عبارت دی له: خندل، ژړل، دانګل، زانګل، لامبل، ټوخل

- لام والا مصدرونه متعدی هم راځی او لازمی هم مګر د ول او کول والا مصدرونه همیشه متعدی وی او د یدل او کیدل والا مصدرونه کله لازمی او کله متعدی مجهول وی. لازمی لکه: ګرځیدل، پخلا کیدل او متعدی مجهول لکه: ډبیدل، پری کیدل

## د پښتومصدرونه د اشتقاق په لحاظ پر دری ډوله دی :

1. تغیر نه منونکی: هغه مصدرونه چی د حالیه افعالو په ګروپ کی خپله اصلی ماده ساتی او کوم اساسی بدلون پکی نه راځی تغیر نه منوونکی مصدرونه دی لکه: (منل، ساتل) چی د حال، مستقبل صیغی ېی بی له کوم تغیره جوړیږی. مثالونه ېی دادی: حال، مستقبل، امر، ماضی، استمراری، فعلی صفت. منم، وبه منم، ومنه، مانه، منلی، ساتم، وبه ساتم، وساته، ساته، ساتلی .
2. قانونی تغیر منونکی: هغه مصدرونه دی چی د حالیه افعالو په اصلی ماده کی د یوی قاعدی سره سم تغیر راځی لکه: وتل، تلل چی د حال په فعل کی ېی (ت) په (ځ) بدلیږی مثالونه ېی دادی: وځم، وبه وځم، ځم، ځم به، ځه
3. بی قانونه تغیر منونکی: هغه مصدرونه دی چی په حالیه افعالو کی ېی اصلی ماده بی له کوم قانون او قاعدی بدلیږی دغه ډول مصدرونه په پښتو کی لږ او په دی ډول دی: (کتل، لیدل، وژل، موندل، نښتل، ختل) چی د حال فعلونه ېی داسی راځی: (ګورم، وینم، وژنم، مومم، نښلم، خیژم)

## فــعــل

فعل هغه کلیمه ده چی په یوه زمانه کی د یوه کار په کولو او یا کیدلو دلالت کوی لکه (وایی، وبه وایی، وویل) چی لومړی کلمه په حال، دوهمه په راتلونی او دریمه په تیره زمانه کی د ویلو کار او چار ښیی

**د امر فعل:** هغه کلیمه ده چی د هغی په واسطه د یو کار د کولو حکم کیږی، د امر فعل ویل کیږی لکه: وګوره، کښینه، وساته او داسی نور

**فعل د اشخاصو په لحاظ پر دری ډوله دی :***د متکلم فعل*، د *مخاطب فعل* او د *غایب فعل* چی دغه هر یو بیا په مفرد، مونث، مذکر و مونث ویشل کیږی

**فعل د معنی په لحاظ پر شپږ ډوله دی :**فعل د معنی په لحاظ پر: (لازم، متعدی، معلوم او مجهول، مثبت او منفی) ویشل کیږی

- **لازمی فعل:** لازمی فعل یوازی په فاعلی تمامیږی لکه: پاخید، کیناست، وخوت
- **متعدی فعل:** متعدی فعل سربیره پر فاعل، مفعول هم غواړی یعنی یوازی په فاعل نه تمامیږی لکه :زلمی کتاب لولی، زه خط لیکم، دی ډوډی خوری
- **معلوم او مجهول فعل:** که چیری په جمله کی د یو فعل فاعل معلوم ؤ هغه ته معلوم فعل وایی لکه: زه دی پیژنم، خو ته مانه پیژنې. او که فاعل معلوم نه ؤ هغه ته مجهول فعل وایی لکه: ورمه شپه میاشت لیدل سوی ده، زلمی هره ورځ وهل کیږی
- **مثبت او منفی فعل:** مثبت فعل د یو کار په کولو او منفی یی په نه کولو دلالت کوی لکه: زه هره ورځ لامبم، څوک چی نه لامبی د هغه وجود خیرن وی

**فعل د زمانې په لحاظ پر دری دوله دی:**

1) حال فعل: حال فعل هغه کلیمه ده چی په موجوده زمانه کی د یو کار په کولو دلالت کوی، لکه: وهی، غواړی، ګورم، ګرځم
2) مستقبل فعل: مستقبل فعل هغه کلیمه ده چی په راتلونکی زمانه کی د یو کار په کولو دلالت کوی لکه: وبه یی لیکم، و به یی وینم، وبه یی لولم
3) ماضی فعل: د ماضی فعل هغه کلیمی ته ویل کیږی چی په تیره زمانه کی پر یو کار دلالت کوی لکه: ولویده، پاخیده، وساته او نور. د ماضی فعل ډولونه په لاندی ډول دی :

- استمراری ماضی: چی په تیره زمانه کی د یو فعل دوام او استمرار ښیی. استمراری ماضی له مصدر څخه ډیر آسانه جوړیږی او د مصدر په پای کی متصل ضمیرونه ګردانیږی او دغه اته صیغې ځینی جوړیږی

1) ختلم: د مفرد متکلم لپاره
2) ختلو: د جمع متکلم لپاره
3) ختلې: د مفرد مخاطب لپاره
4) ختلئ: د جمع مخاطب لپاره
5) خوت: د مفرد مذکر لپاره
6) ختل: د جمع مذکر لپاره
7) ختله: د مفرد مونث لپاره
8) ختلی: د جمع مونث لپاره

- مطلقه ماضی: مطلقه ماضی هغه ده چې په مطلق ډول په تیره زمانه کې د یو فعل په کولو دالالت کوی او کوم قید تری نه معلومیږی. مطلقه ماضی د استمراری ماضی په سر کې د (و) په زیاتولو جوړیږی. مثالونه يې دادی:
  - زه په باغ کې وګرځیدم
  - مونږ په باغ کې وګرځیدو
  - ته چیرې وګرځیدی؟
- نږدې ماضی: په نږدې زمانه کې د یو کار په کولو دلالت کوی نږدې ماضی د فعل صفت په اخر د (یم، یو، يې، دی، ده، دی) په ګردانولو جوړیږی لکه: ختلی یم، ختلي يو، ختلي يې، ختلی دی، ختلی ده، ختلي دی
- لرې ماضی: په لرې زمانه کې د یو کار په کولو دلالت کوی لرې ماضی د فعلي صفت په پای کې د (وم، وو، وی، و، وو، وه، وی) په ګردانولو جوړیږی لکه: ختلی وم، ختلی وو، ختلی وې، ختلی ؤ، ختلی وو، ختلی وه، ختلی وې
- امکاني ماضی: امکانی ماضی هغې ته وایي چې په تیره زمانه کې د یو کار امکان ښیي او پر دوه ډوله دی: استمراری او مطلقه
- امکانی استمراری ماضی: د فعلی صفت په پای کې دی (شوم، شوو، شوی، شو، شول، شوه، شوی) په ګردانولو جوړیږی لکه :ختلای شوم، ختلای شوو، ختلای شوی، ختلای شو، ختلای شوه، ختلای شوې
- امکانی مطلقه ماضی: د امکانی استمراری ماضی په سر کې د (و) په زیاتولو جوړیږی لکه: وختلای شوم، وختلای شوو، وختلای شوی، وختلای شو، وختلای شول، وختلای شوه، وختلای شوی
- احتمالی ماضی: په تیره زمانه کې په احتمالی ډول د یو کار په کولو دلالت کوی احتمالی ماضی د فعلی صفت په پای کې د (به یم، به یو، به يې، به يې) په ګردانولو جوړیږی لکه: راغلی به یم، راغلی به یو، راغلی به يې، راغلی به يې
- تمنايي ماضي: په تیره زمانه کې د یو فعل د کولو آرزو ښکاره کوی. په تمنايي ماضی کې د فعلی صفت څخه وروسته (وای) او په سر کې يې (که، کشکې) راځي، لکه: کشکې زه هم تللی وای، که ته راغلی وای ښه به ؤ، زړه مې کیده چې تللی وای
- تأکیدی ماضی: له لیری ماضی څخه د فعلی صفت په آخر کې د (به) په زیاتولو جوړیږی لکه: راغلی به ؤ، تللی به وی

## سرچيني :

پښتوګر. پوهاندصدیق الله رښتین ، ۱۹۹۴خیربازار پېښور پختونخوا

عمومی پښتو. نویداحمدغفوری ۱۳۸۹ /۱۱ / ۲.